# د جامو پاك كولو طريقه

(سره د نَجاسَتونو د بَيان)









شيخِ طريقت، أميرِ أهلِسُنّت، باني دعوتِ إسلامي، حضرت علّامه مولانا أبو بلال

**مُحمّد اِلياس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت بركاتهم العالية

پښتو ترجمه:
مجلِسِ تراجم
(دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ

اِنۡ شَآءَ اللہ عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰھُمَّ افۡتَحۡ عَلَیۡنَا حِکۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَیۡنَا رَحۡمَتَكَ یَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِکۡرَام

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

طالب غم
مدینہ بقیع
ومغفرت

(اول او آخر کښ يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالې نوم: د جامو پاك کولو طريقه

اول ځل: ..............................

تعداد: ............

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښ څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډنګ کښ مخکښ وروسته لګيدلې وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

www.dawateislami.net

# د جامو پاك كولو طريقه

## (سره د نَـجاسَتونو د بَيان)

شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا رِساله "کپڑے پاک کرنے کا طریقہ" په اردو ژبه کښ ليکلي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښ د وَس مناسب دَ ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښ څه غلطي يا کمې، زياتې اوموميئ نو ستاسو په خدمت کښ عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** 🖃 translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

# فهرست


| نمبر | د جامو پاك كولو طريقه | صفحه |
| --- | --- | --- |
| 1 | د دُرود شريف فضِيلت | 1 |
| 2 | د نَجاست قِسمونه | 2 |
| 3 | نَجاسَتِ غَلِيظه | 2 |
| 4 | د پئيو څښلو والا ماشومانو مِتيازې ناپاكه دي | 4 |
| 5 | د نَجاستِ غَليظه حُكم | 4 |
| 6 | د دِرهم د مِقدار وضاحت | 5 |
| 7 | نَـجاستِ خَفِيفه | 6 |
| 8 | د شخوند حُكم | 7 |
| 9 | د تريخې حُكم | 7 |
| 10 | د څناورو قې [يعني كرځون، اُلټئ] | 7 |
| 11 | كه په شودو يا اوبو كښې نَجاست پريوځي نو.......؟ | 9 |
| 12 | ديوال، زمكه، وَنه وغيره به څنګه پاكيږي؟ | 9 |
| 13 | په وينه ككړه زمكه د پاك كولو طريقه | 10 |
| 14 | په غوشانو ليو كړي زمكه | 11 |
| 15 | د كومو مرغو فُضله چه پاكه وي | 11 |
| 16 | د مهې وِينه پاكه ده | 11 |
| 17 | د مِتيازو نرې څاڅكي | 12 |
| 18 | په غوښه كښې پاتې شوې وِينه | 12 |
| 19 | د څاروو اوچ شوې هډوكي | 12 |
| 20 | د حرامو څناورو شوده [پئ] | 12 |
| 21 | د مرې [منبرك] پچې | 13 |


www.dawateislami.net

| | | |
|---|---|---|
| 22 | په ګند باندې کښيناستو والا مچان | 13 |
| 23 | د باران د اوبو اَحکام | 13 |
| 24 | په کوڅو کښې ولاړې د باران اوبه | 14 |
| 25 | په سړك باندې د شيندلو شوو اوبو څاڅکې | 15 |
| 26 | [د خاورې] په لوټه باندې د پاك کولو نه پس راتلو والا خوَله | 15 |
| 27 | که سپې بدن ته اولګي | 16 |
| 38 | که سپې په وړو کښې خُله اووهي؟ | 16 |
| 29 | که سپې په لوښي کښې خُله اووهي | 16 |
| 31 | که پيشو په اوبو کښې خُله اووهي نو؟ | 17 |
| 32 | د درې مَدَني ماشومانو جِينکو د مرګ د غم نه ډکه واقعه | 17 |
| 33 | د څناورو خوَله | 18 |
| 34 | د خَر خوَله پاکه ده | 18 |
| 35 | په وِينې شوي خُله اوبه څښل | 18 |
| 36 | د زنانه د پردې د ځائ اوبه | 19 |
| 37 | سخا شوي غوښه | 19 |
| 38 | د وِينې بوتل | 19 |
| 39 | د مړي د خُلې اوبه | 19 |
| 40 | ناپاکه بِستره | 20 |
| 41 | لُوند خختګ | 20 |
| 42 | د اِنساني څرمنې ټکړه | 20 |
| 43 | څپياکه (يعني اوچ شوي غوشان) | 21 |
| 44 | که په تَبَخِې ئې ناپاکه اوبه اوشيندلې نو؟ | 21 |
| 45 | د حرام څناور غوښه او څرمن به څنګه پاك کيږي؟ | 21 |


www.dawateislami.net

| | | |
|---|---|---|
| 46 | د چیلئ په پوټکي باندې د ناستې سره عاجزي پیدا کیږي | 22 |
| 47 | د ټینګ نجاست والا جامې څنګه اووِینځي | 22 |
| 48 | که د نجاست رنګ په جامو پاتې شي نو؟ | 23 |
| 49 | د نَري نَجاست پاك کولو متعلِّق شپږ مَدَني ګلونه | 23 |
| 50 | د بهیدونکي نَل نه لاندې وِینځلو کښې نچوړول شرط نه دې | 25 |
| 51 | په روانو اوبو کښې پاك کولو کښې د نچوړولو شرط نشته | 25 |
| 52 | د پاکو او ناپاکو جامو د یو ځائ وِینځلو مسئَله | 26 |
| 53 | د ناپاکه جامو د پاك کولو آسانه طریقه | 26 |
| 54 | په واشِنګ مشین کښې د جامو پاك کولو طریقه | 27 |
| 55 | د نَل نه لاندې د کپړو پاك کولو طریقه | 28 |
| 56 | د کارپیټ [قالِین] پاك کولو طریقه | 28 |
| 57 | په ناپاکه نکریزو باندې سره کړي لاسونه به څنګه پاك شي؟ | 29 |
| 58 | د ناپاکه تیلو والا کپړه وِینځلو مَسئَله | 30 |
| 59 | که د کپړې لګه شان حِصَّه ناپاکه شي . . .؟ | 30 |
| 60 | په شودو کپړه وِینځل څنګه دي؟ | 31 |
| 61 | د مَني والا کپړو پاك کولو شپږ اَحکام | 31 |
| 62 | د بل د ناپاکه کپړو ښودنه کله واجِب ده؟ | 32 |
| 63 | د مالوچو پاك کولو طریقه | 32 |
| 64 | د لوښو پاك کولو طریقه | 33 |
| 65 | د چړې، چاقو وغیره پاك کولو طریقه | 33 |
| 66 | د آئینه [شِیشه] پاك کولو طریقه | 33 |
| 67 | د پیزار پاك کولو طریقه | 34 |
| 68 | د کافِرو استعمال شوي بنینونه وغیره | 34 |


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د جامو پاك كولو طريقه

## (سره د نَـجاسَتونو د بَيان)

## د دُرود شريف فضِيلت

د الله عَزَّوَجَلَّ د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دي: "چا چه په ما باندې سل ځله **درود شريف** اولوستلو اللّٰه‌تعالیٰ د هغه د دواړو سترګو د مينځه اوليكي چه دا د نِفاق [يعني د منافقت] او د جَهَنَّم د اور نه آزاد دې او هغه به د قيامت په ورځ د شهيدانو سره ساتي."

(مَجمَعُ الزَّوائِد، ج١٠، ص٢٥٣، حديث١٧٢٩٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د هر عاقِل و بالِغ مسلمان سړي او زنانه د پاره د طهارت [يعني پاكۍ] هُغه اَحكام زده كول فرضِ عَين دي چه په هغې نمونځ صحيح كيدې شي. دا لِيك په هُغه ضروري مسائِلو كښې په ځينو باندې مُشتمِل دې لِهٰذا كه شيطان هر خومره سستي دروَلي خو دا رِساله پوره اولولئ، دا چه اولولئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ پخپله به د دې په فائِدو پوهه شئ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درود پاک لوستل هیر كړل هغه د جنّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِی)

# د نَجاست قِسمونه

د نَجاسَت دوه قِسمونه دي: ﴿۱﴾ **نَجاستِ غَلِيظه** ﴿۲﴾ **نَـجاستِ خَفِيفه** (فتاوٰی قاضی خان ج۱ص۱۰)

# نَجاسَتِ غَلِيظه

﴿۱﴾ د اِنسان د بدن نه چه څه داسې څيز اووځي چه د هغې سره غُسل يا اودس واجِب شي **نَجاستِ غلِيظه** دي لکه غټ بَول، مِتيازې، بهيدلې وِينه، نَو، په ډکه خُله قي [يعني ګرځُون، اُلتيئ] د حيض او نِفاس او اِستِحاضې وِينه، مَني، مَذي، وَدي. (فتاوٰی عالمگیری ج۱ ص٤٦) ﴿۲﴾ کومه وِينه چه د زخم نه بهيدلې نه وي هغه پاکه ده. (فتاوٰی رَضَوِیّہ مُخَرَّجہ ج۱ص۲۸۰)
﴿۳﴾ د خُوړ سترګې نه چه کومې اوبه اوبهيږي هغه **نَجاستِ غليظه** دي. هم دغسې چه د نامه يا د سينې [يعني د پئيو د ځائ] نه د درد سره اوبه اوځي، **نَجاستِ غليظه** دي. (اَیضاً ص۲٦۹،۲۷۰) ﴿٤﴾ د خُشکئ د هر ځاروي بهيدلې وِينه، د مُردار غوښه او وازګه (يعني په کوم ځناور کښ چه بهيدلې وِينه وي هغه که د بغير ذَبحِ شرعي نه مړ شي نو مُردار دي او د مجوسي يا بُت پرست يا مُرتد ذبيحه هُم مُرداره ده، اګر که هغه حلال ځاروي مَثَلًا چيلئ وغيره په "بِسمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَکبَر" وئيلو ذبح کړي وي د هغې غوښه او پوټکې هر څه ناپاکه شو. خو که مسلمان حرام ځاروي هُم په شرعي طريقه باندې ذبح کړو نو د هغې غوښه پاکه ده اګر چه خوړل ئې حرام دي، سِوا د خِنزير نه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اُو نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

ځكه چه هغه نَجِسُ الْعَين دي په هيڅ شان نه شي پاك كيدې) ﴿۵﴾ د حرام ښاروي لكه سپي، زمري، ګيدړ، پيشو، مږه، خر، قچر، هاتي او خنزير غوشان او مِتيازې او د اَس غوشان او د ﴿٦﴾ د هر حلال ښاروي غوشان او پچې لكه د غوا، ميښې غوشان او د چيلۍ او اوښ پچې او ﴿٧﴾ كومه يوه مرغۍ چه اوچته نه شي الوَتلې د هغې فُضله [يعني د شا طرف نه وَتلې مَواد] لكه چرګه او بطه، كه هغه وړه وي او كه غټه، او ﴿٨﴾ او د هر قِسم شراب او نشه راوستونكې تاړي[1] او سيندي[2] او ﴿٩﴾ د مار پچې او مِتيازې او ﴿١٠﴾ د هغه ځنګلي مار او چيندخې غوښه چه په هغې كښې بهيندهِ وِينه وي اګر كه ذبح كړې شوې وي هُم دغسې د هغوئې پوټكې اګر كه پوخ [يعني اوچ] كړې شوې وي او ﴿١١﴾ د خِنزير غوښه او هډوكې او وِيښته اګر كه ذبح كړې شوې وي دا ټول نَجاستِ غَليظه دي. (بهارِ شريعت ج ۱ حصّه ۲ ص ۳۹۰، ۳۹۱) ﴿١٢﴾ د چرمښكۍ او كربوړې وِينه نَجاستِ غَليظه ده (اَيضاً ص ۳۹۱) ﴿١٣﴾ د هاتي د خړتم اوبه او د زمري، سپي، پړانګ او نورو سړې خورو ځناورو لاړې نَجاستِ غَليظه دي. (اَيضاً ص ۳۹۱)

---

[1] د يو قِسم بوټې نشه كوونكې رَس.

[2] د كجورو يو خاص قِسم عمل باندې جوړې كړې اوبه چه هغه نشه كول كوي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاك اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## د پئيو ښنلو والا ماشومانو مِتيازې ناپاكه دي

په اكثر عوامو كښې دا خبره مشهوره ده چه د پئيو ښنلو والا ماشومان خوراك نه شي كولې ځكه د هغوئي مِتيازې ناپاكه نه وي دا غلَطه ده، د پئيو ښنلو والا ماشومانو مِتيازې او غټ بَول هم **نَجاستِ غَليظه** دي هُم دغسې كه د پئيو ښنكلو والا ماشوم پئ اوكړځَوَل نو كه په ډكه خُله وي نو **نَجاستِ غَليظه** دي. (مُلَخَّصاً بهارِ شريعت ج۱ حصّه۲ ص ۳۹۰)

## د نَجاستِ غَليظه حُكم

د **نَجاستِ غَليظه** حُكم دا دې كه په جامو يا بدن باندې د يو دِرهم نه زيات پريوتو نو د هغې وِينځل **فرض** دي، كه بغير د پاك كولو نه ئې نمونځ اوكړو نو نمونځ به نه كيږي. او په داسې صورت كښې قصداً نمونځ كول سخته **ګناه** ده او كه د نمونځ سپك ګڼړلو په وجه ئې داسې نمونځ اوكړو نو **كُفر** دې.

**نَجاستِ غَليظه** كه د دِرهم همره په جامو يا بدن لګيدلې وي نو د هغې پاك كول **واجِب** دي كه بغير د پاك كولو نه ئې نمونځ اوكړو نو نمونځ به **مكروهِ تحرِيمي** شي او په داسې حالت كښې جامې يا بدن پاك كول او **دوباره نمونځ** كول واجِب دي، قصداً داسې نمونځ كول **ګناه** ده كه **نَجاستِ غَليظه** د دِرهم نه كم په جامو يا بدن لګيدلې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

وي نو د هغې پاك كول **سُنَّت** دي كه بغير د پاك كولو نه ئې نمونځ اوكړو نو نمونځ به اوشي، خو خِلافِ سُنَّت، داسې نمونځ دوباره كول **بهتر** دي. (بَهارِ شرِيعَت ج ۱ حِصّه ۲ ص ۳۸۹)

## د دِرهم د مِقدار وضاحت

د **نَجاستِ غَليظه** د دِرهم نه كم يا زيات كيدو نه مُراد دا دې چه كه **نَجاستِ غَليظه** ټينګ وي مَثلًا غټ بوَل، غوشان وغيره نو د دِرهَم نه به مُراد په وزن كښې څلور نيمې ماشې (يعني ٤.٣٧٤ ګرامه) وي. لِهٰذا كه نجاست د دِرهم نه زيات يا كم وي نو د هغې نه مُراد په وزن كښې د څلور نيمې ماشې نه كم يا زيات كيدل دي. او كه **نَجاستِ غَليظه** نرې وي لكه مِتيازې وغيره نو د دِرهم نه مُراد اوګدوالې او پلن والې دې يعني چه د لاس ورغوې ښه خور كړې اونيسئ او په هغې باندې په قلاره قلاره دومره اوبه واچوئ چه د هغې نه نورې زياتې اوبه پرې نه شي اودريدلې، اوس چه دا اوبه څومره [په اوګدوالي او پلن والي كښې] خورې دي دومره غټ ځائ به دِرهم ګڼړلې شي.

(بَهارِ شرِيعَت ج ۱ حِصّه ۲ ص ۳۸۹)

كه په يوه كپړه [رخت] يا بدن باندې يو څو ځائ **نَجاستِ غَليظه** اولګيدو او يو ځائ هم د دِرهَم هُمره نه دې، خو [د هغه ټولو ځائيونو] مجموعه د دِرهم هُمره ده نو د دِرهم هُمره به ګڼړلې شي او كه زيات

www.dawateislami.net

وي نو زيات [به ګڼړلې شي]. په نجاسَتِ خفِيفه كښې به هم په **مجموعه** حُڪم وركولې شي. (اَيضاًص ٣٩٣)

## نَـجاستِ خَفِيفه

د كومو ښاروو غوښه چه حلاله ده، (لكه غوا، غوَيا، ميښه، چيلئ او اوښ وغيره) د دې مِتيازې، او د آس مِتيازې او د كومو مرغو غوښه چه حرامه ده، كه هغه ښكاري وي او كه نه، (لكه قارغه، مارغه، شاندې، باز وغيره) د دې فُضله **نَـجاستِ خَفِيفه** دې. (اَيضاًص ٣٩١)

## د نَـجاستِ خَفِيفه حُڪم

د **نَـجاستِ خَفِيفه** حُڪم دا دې چه د جامو په كومه حِصَّه يا د بدن په كوم يو اندام اولګي كه [د جامو د هُغه حِصّې يا د اندام] د څلورمې حِصّې نه ڪم وي نو معاف دې، مَثَلًا كه په لِستوڼړي **نَـجاستِ خَفِيفه** لګيدلې وي نو كه د لِستوڼړي د څلورمې حِصَّې نه ڪم وي يا كه په لَـمَن لګيدلې وي نو چه د لَـمَن د څلورمې حِصَّې نه ڪم وي يا كه په لاس باندې لګيدلې وي او د لاس د څلورمې حِصَّې نه ڪم وي نو **مُعاف** دې يعني په داسې حالت كښې شوې نمونځ به اوشي خو البته كه په پوره څلورمه حِصَّه لګيدلې وي نو **نمونځ به نه كيږي**.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه ٢ ص ٣٨٩)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: څوك چه په ما دَ جُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځِ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

## د شخوند حُكم

د هر ښاروي د شخوند حُكم هُم هغه وي كوم چه د هغه د غوشانو [يعني شخانو] وي. (ايضاً ص٣٩١، دُرِّ مُختار ج١ ص٦٢٠) ښاروي چه خوراك د معدې نه را اوباسي او خُلې ته ئې راوړي او دوباره ئې جُووي هغې ته **شخوَند** وهل وائي. څنګه چه غواګانې او اوښان اكثر خُله خوزوي [يعني جُووَل كوي] او د خُلې نه ئې د صابن په شان زګ را اوځي، د دوئې (يعني د غوا، اوښ وغيره) په شخوند كښ د وتلو والا زَګ وغيره **نَجاستِ غَليظه** دې.

## د تِريخي حُكم

د هر ښاروي د تريخي هُم هغه حُكم دې كوم چه د هغه د مِتيازو دې، د حرامو ځناورو تِريخي **نَجاستِ غَليظه** او د حلالو ښاروو **نَـجاستِ خَفِيفه** دې. (دُرِّ مُختار، ج١ ص٦٢٠، بهارِ شريعت ج١ حِصّه٢ ص٣٩٣)

## د ځناورو قې [يعني كرځون، اُلتىٔ]

د هر ځناور [او مرغۍ] **قې** [يعني كرځُون، اُلتىٔ] د هغه د **غوشانو** او [فُضلې] حُكم لري. يعني د كوم يو فُضله چه پاكه ده مَثَلًا چرچنړه يا كوتره نو د هغې **قې** [يعني كرځُون، اُلتىٔ] هم پاك دي او د كوم يو فُضله چه **نَـجاستِ خَفِيفه** ده لكه باز يا قارغه نو د هغې **قې** [يعني

كرځُون، اُلتِّيءْ] هم **نَـجاستِ خَفِيفه** دې. او د كوم يو فُضله چه **نَجاستِ غَليظه** دې لكه بطه يا چرګه نو د هغې **قې** [يعني كرځُون، اُلتِّيءْ] هم **نَجاستِ غَليظه** دې. او د **قې** [يعني كرځُون، اُلتِّيءْ] نه مُراد هغه خوراك او اوبه وغيره دي چه هغه د معدې نه [بيرته په خُله] بهر را اوځي ځكه چه د كوم ځناور [ځاروي يا مرغۍ] فُضله چه ناپاكه وي نو د هغه **معده** مَعدَنِ نَجاست (يعني د ګندګۍ ځائ) وي، د معدې نه چه څه څيز بهر را اوځي نو هغه به بخپله نَجِس (يعني ناپاكه) وي يا به د نَجِس سره يو ځائ شي او بيا به بهر را اوځي نو بهر حال د فُضلې [يعني ګندګۍ] په شان نَجاست لرې په **خفِيفه** كښې خفيفه او په غلِيظه كښې **غلِيظه**، بر خِلاف د هٰغه څيز چه هغه لا معدې ته نه وي رسيدلې او بيرته بهر ته را اُوځي. مَثَلًا **چرګې** اوبه اوڅښلې او اوس ئې لا په مرۍ كښې وې چه اوبه ئې اونښتلې او بيرته را اووتلې نو دا اوبه به د فُضلې [يعني ګندګۍ] په حُكم كښې نه وي. لِاَنَّهٗ مَا اسْتَحَالَ اِلٰی نَجَاسَةٍ وَّلَا لَاقٰی مَحَلَّهَا (يعني ځكه چه دا په نَجاست [يعني ګندګۍ] كښې نه دې ګډې شوې او نه د نجاست د ځائ سره لګيدلې دي) بلكه په دې به د سُؤر يعني د جُوټه حُكم لګي ځكه چه د هغې د خُلې سره لګيدو نه پس راغلې دي. د كوم يو ځاروي [يا مرغۍ وغيره] جُوټه چه نَجاستِ غَليظه يا خفيفه يا مشكوك يا مكروه يا طاهِر (يعني پاكه) وي چه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

څنګه وي په هغې به هم هغه حُڪم لګي کوم چه معدې ته د رسيدو نه مخکښ بيرته بهر ته را اووتو. کومه چرګه چه خلاصه ګرځي د هغې جُوته مکروه ده نو دا اوبه به هم مکروه وي او که معدې ته رسيدلې وي او بيا بهر په خُله راوتې وي نو **نَجاستِ غَليظه** به وي. (فَتَاوٰى رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج٤، ص٣٩١،٣٩٠)

## که په شودو يا اوبو کښ نجاست پريوځي نو.......؟

د **نَجاستِ** غَليظه او خفيفه چه کوم حُکمونه جُدا جُدا بيان کړې شوي دي دا احکام هٰغه وخت دي چه بدن يا کپړې ته اولګي. او که په يو نري څيز مَثَلًا په شودو يا اوبو کښ نجاست پريوځي نو که هغه غليظه وي او که خفيفه وي نو په دواړو حالتو کښ به هغه شوده يا اوبه په کوم کښ چه نجاست پريوتې دې **ناپاکه** شي اګر چه که يو څاڅکې نجاست پکښ پريوتې وي. نَجاستِ خَفِيفه که په نَجاستِ غَليظه کښ ګډ شي نو هغه **ټول** به نَجاستِ غَليظه شي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه٢ ص٣٩٠)

## ديوال، زمکه، وَنه وغيره به څنګه پاکيږي؟

﴿١﴾ **ناپاکه** زمکه چه اوچه شي او د نجاست اثر يعني رنګ او بوئي ترې ختم شي نو هغه زمکه **پاکه** شوه، که هغه ناپاکي په هوا اوچه شوي وي او که په نمر او که په اور، لِهٰذا په هٰغه زمکه **نمونځ** کيدې شي خو په هٰغه زمکه تَيَمُّم نه شي کيدې ﴿٢﴾ ونه او ګيا او ديوال او داسې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو كالو ګناهونه به معاف شي. (كَنزُالْعُمَّال)

خښته چه هغه په زمكه كښې لګيدلې وي، دا ټول په اوچيدو پاك شو (هله چه د نجاست اثر، رنګ او بوئې لرې شوې وي) او كه خښته لګيدلې نه وي نو په اوچيدو به نه پاكيږي بلكه د هغې وِينځل به ضروري وي. هم دغسې كه وَنه يا ګيا د (نجاست د) اوچيدو نه مخكښې اوريبلې شي نو د طهارت (يعني پاك كيدو) د پاره وِينځل ضروري دي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه٢ ص٤٠١) ﴿٣﴾ كه داسې كانړې وي چه هغه د زمكې نه نه شي جُدا كيدې نو د اوچيدو سره به پاك شي، هله چه د نجاست اثر ترې لا ړ شي ګني وِينځل به غواړي. (اَيضاً) ﴿٤﴾ كوم څيز چه د زمكې سره مُتَّصِل (يعني په زمكه كښې لګيدلې) وو او نَجِس [يعني ناپاكه] شو، بيا د اوچيدو [او د نجاست د اثر لرې كيدو نه] پس جُدا كړې شو، نو اوس هم پاك دې. (اَيضاًص٤٠٢) ﴿٥﴾ كوم څيز چه په اوچيدو يا مږلو وغيره باندې پاك شو بيا د هغې نه پس لُوند شو نو هغه څيز به ناپاكه نه وي (اَيضاًص٤٠٢) څنګه چه زمكه د مِتيازو كيدو په وجه ناپاكه شوه بيا هغه زمكه اوچه شوه او د نجاست اثر ترې ختم شو نو هغه زمكه پاكه شوه. اوس كه هغه زمكه بيا په څه څيز لـمده شوه نو ناپاكه به نه وي.

## په وينه ككړه زمكه د پاك كولو طريقه

ماشوم يا لوئې كس په زمكه مِتيازې يا غټ بَول اوكړل يا د زخم وغيره نه وِينه يا نَو يا د خاروي د حلالولو په وخت كښې وتلې وِينه په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه كښې به لس نيكئ ليكي. (تِرمِذی)

زمكه پريوته او د اوبو نه بغير هسې په كپړه وغيره اوچه كړې شوه نو د اوچيدو او د نجاست د اثر د ختميدو نه پس هغه زمكه پاكه شوه. په هغې نمونځ كيدې شي.

## په غوشانو ليو كړې زمكه

كومه زمكه چه په غوشانو ليو كړې شي، اګر كه هغه اوچه شي بيا هم عَين [يعني رَسا] په هغه زمكه نمونځ كول جائِز نه دي، البته داسې زمكه چه هغه په غوشانو ليو كړې شوي وي، د هغې د اوچيدو نه پس په هغې څه پيره كپړه خوره كړې شي او نمونځ پرې اوكړې شي نو نمونځ به صحيح اوشي. (بَهارِ شرِيعَت ج ۱ حِصّه ۲ ص ۴۰۴)

## د كومو مرغو فُضله چه پاكه وي

﴿۱﴾ د ښاپيرك فُضله او مِتيازې دواړه پاك دي. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۱ ص۵۸۴، بَهارِ شرِيعَت ج ۱ حِصّه ۲ ص ۳۹۱) ﴿۲﴾ كومې حلالې مرغۍ چه اوچتې الوَځي، لكه (چرچنړه)، كوتره، ښارو، اِيلۍ وغيره د دې فُضله [يعني د شا طرف نه وَتلې مَواد] پاك دې. (اَيضاً)

## د مهي وِينه پاكه ده

د مهي او د اوبو د نور مخلوق او د كټملې [منګوَړ] او ماشې وِينه او د قچر او د خر لاړې او خوَله پاكه ده. (بَهارِ شرِيعَت ج ۱ حِصّه ۲ ص ۳۹۲)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

## د مِتيازو نري څاڅكي

﴿۱﴾ د مِتيازو بالكل نري څاڅكي د ستنې د څُوكې هُمره، هغه كه په جامو يا بدن باندې پريوځي نو جامې او بدن به پاك وي.

(عالمگيرى ج۱ص ٤٦، بَهارِ شرِيعَت ج۱ حِصّه ۲ ص ۳۹۲)

﴿۲﴾ په كومه كپړه [جامو] چه هُم داسې نري څاڅكي پريوتل او هغه كپړه اوبو كښې پريوتله نو اوبه به هم ناپاكه نه شي.

(بَهارِ شرِيعَت ج ۱ حِصّه ۲ ص ۳۹۲)

## په غوښه كښې پاتې شوې وِينه

په غوښه، تورې يا اِينه كښې چه كومه وِينه پاتې شوه هغه پاكه ده او كه دا څيزونه په بهيندو وِينه كښې ككړ شي نو ناپاكه شو، د وِينځلو نه بغير به نه پاكيږي. (اَيضاً)

## د څاروو اوچ شوې هډوكي

د خِنزِير نه علاوه د ټولو څناورو هغه هډوكي چه په هغې د مُردار غوړوالې نه وې نښتې، پاك دي، او وِيښته او غاښونه ئې هم پاك دي.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ حِصّه ۲ ص۳۹۵)

## د حرامو څناورو شوده [پيۍ]

د حرامو څناورو شوده [يعني پيۍ] نَجِس [يعني ګنده] دي، البته د اَسپې شوده پاك دي خو د هغې خوړل [څښل] جائِز نه دي. (اَيضاًص ۳۹۳)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درودِ پاك اُونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنى)

## د مرېږ [منبرك] ېچې

د مرېږ [منبرك] ېچې (ناپاكه دي خو) كه په غنمو كښې ميده شوي يا په تيلو كښې پريوتې نو وره او تيل **پاك** دي، خو كه په خوند كښې ئې فرق راشي نو نَجِس (يعني ناپاكه) دي او كه په ډوډۍ كښې ښكاره شوه نو د هغې د خوا و شا نه لږه شان لرې كړئ، په باقي [خوړلو] كښې هيڅ باك نشته. (عالَمگيرى ج١ ص٤٦، ٤٨ بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه٢ ص ٣٩٣)

## په ګند باندې كښيناستو والا مچان

﴿١﴾ په غټو بَولو باندې ناست مچان چه والوَځي او په جامو باندې كښيني نو جامې به نه نَجِسې (يعني نه ناپاكه) كيږي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه٢ ص٣٩٤)

﴿٢﴾ د لاړې چڦړې (كه هغه د باران وي او كه د نورو اوبو) **پاكې** دي. (اَيضاً)

## د باران د اوبو اَحكام

﴿١﴾ كه د چت [يعني د كوټې وغيره د سر] نه د باران اوبه د ناوې [يعني ناوګۍ] په ذريعه رابهيږي نو هغه پاكې دي اګر كه په چت باندې ځاۍ په ځاۍ نَجاست [يعني ګند] پروت وي، اګر كه نَجاست د ناوې په خُله كښې پروت وي، اګر كه د نَجاست سره چه كومې اوبه لګې او رابهيږي هغه د نيمې نه كمې يا برابرې يا زياتې وي تر څو چه د نَجاست په وجه د اوبو په يو وَصف [يعني صِفَت] كښې تَغَيُّر [يعني بدلون] رانشي (يعني

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

تر څو چه د نَجاست په وجه د اوبو رنګ يا بوئي يا خوند بدل نه شي) هم دا صحيح ده او په هم دې اِعتِماد دې او كه باران اودريدو او اوبه بهيدل بند شو نو بيا هغه ولاړې اوبه او كومې چه د چت نه راڅڅيږي نَجِس [يعني ناپاكه] دي. (بَهارِ شريعَت ج١ حِصّه٢ ص٣٣٠) ﴿٢﴾ هُم دغسې په نالو [لښتو] كښې د باران بهيدونكي اوبه پاكې دي، تر څو چه په هغې كښې د نَجاست رنګ، يا بوئي، يا مزه ظاهره [يعني ښكاره] نه وي، پاتې شوه په هغې د اودس كولو خبره نو كه په هغه اوبو كښې د نَجاسَتِ مَرْئِيَّه (يعني د ښكاره كيدو والا نَجاست) ذرّې داسې بهيږي چه په هره پيره چونګ كښې راخستو كښې يوه، نيمه ذَرّه ضرور د هغې هُم وي نو بيا خو به په لاس كښې د راخستو سره ناپاكه شي، په هغې اودس كول حرام دي ګني [يعني كه په هر چونګ كښې د نَجاسَت ذرّه نه راځي نو] جائِز دي او بچ كيدل ترې بهتر دي. (اَيضاً) ﴿٣﴾ د نالئ [لښتې] اوبه چه د باران د اودريدو نه پس اودريږي كه په هغې كښې د نَجاست ذرّې محسوسيږي يا پكښې د هغې رنګ او بوئي محسوسيږي نو ناپاكه دي ګني [كه داسې نه وي نو] پاكې دي. (اَيضاً)

## په كوڅو كښې ولاړې د باران اوبه

په جَوَړو كوڅو او سړكونو كښې چه د باران كومې اوبه ولاړې وي هغه پاكې وي اګر چه هغه خړې وي. كله كله د ګټر اوبه هم په هغې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلىٰ)

كښې شاملې شي خو دلته هُم دا قاعِده ده چه د ناپاكئ په سبب كه د هغه اوبو په رنګ يا خوند يا بوئې كښې بدلون راغلې وي نو ناپاكه دي ګڼي [يعني كه داسې نه وي نو] پاكې دي خو كه باران اودريدو او اوبه بهيدل هم بند شو او هغه د دَه دَردَه [يعني ۲۲۵ مربَّع فُټه] نه كمې وي او په هغې كښې څه نَجاست يا د هغې ذرّې ښكاري نو بيا ناپاكه دي. هُم دغسې كه په هغې كښې چا مِتيازې اوكړې نو ناپاكه به شي. د پيزار نه چه كوم د چقړو خاځكي را الوَځي او په پرتوګ [يا شا ته لَمَن] باندې پريوځي هغه پاك دي تر څو چه يقيني طور د هغې ناپاكه كيدل معلوم نه وي.

## په سړك باندې د شيندلو شوو اوبو څاڅكي

كه په سړك باندې اوبه شيندلې كيږي او [د زمكې نه] څاڅكي را والوَتل او په جامو پريوتل، جامې نَجَسې [يعني ناپاكه] نه شوې خو وِينځل بهتر دي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه ٢ ص ٣٩٤)

## [د خاورې] په لُوټه باندې د پاك كولو نه پس راتلو والا خوَله

د غټې اودس ماتولو نه پس ئې په لُوټه باندې ځان پاك كړو، بيا د هُغه ځائ نه خوَله اووتله او په جامو يا بدن اولګيده نو بدن او جامې به نه ناپاكه كيږي. (عالمگيرى ج١ ص٤٨، بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه ٢ ص ٣٩٥)

www.dawateislami.net

## كه سپي بدن ته اولګي

كه سپي بدن يا جامو ته اولګي نو اګر كه د هغه بدن لُوند وي بدن او جامې به پاكې وي، خو كه د هغه په بدن نَجاست لګيدلې وي نو هغه جُدا خبره ده، يا كه د هغه لاړې اولګي نو ناپاكه به شي.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه ٢ ص ٣٩٥)

## كه سپي په وړو كښ خُله اووهي؟

سپي وغيره كوم يو داسې ځناور (مَثَلًا خِنزِير، زمري، پړانګ، شرمښ، هاتي، ګِيدړ او نورو سرې خورو ځناورو كښ كوم يو ځناور) چه د هغه لاړې ناپاكه وي، په وړو كښ خُله اووهله نو كه اغښتې [اښكلې] شوي وو نو چه كوم ځائ كښ هغه خُله اووهله هغه ترې لرې كړئ باقي پاك دي او كه اوچ [وړه] وو نو چه خومره لامده شو هغه ترې لرې كړئ [باقي پاك دي]. (بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه ٢ ص ٣٩٥)

## كه سپي په لوښي كښ خُله اووهي

كه سپي په لوښي كښ خُله اووهي نو كه هغه د چينې لوښې يا د خه اوسپنې لوښې وي يا د خاورې روغنې [يعني داسې لوښې چه د شيشې مخ وركړې شوې] وي يا استعمالې غوړ [لوښې وي] نو په درې ځله وِينځلو به پاك شي ګنې هره پيره به [د وِينځلو نه پس] اوچول غواړي. او كه په چينې لوښي يا بل لوښي كښ چاودې شوې وي نو په درې ځله اوچولو به پاكيږي صرف په وِينځلو به نه پاكيږي. (اَيضاً ص٣٤٢)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كونكې او ګواه جوړيږم.(شُعَبُ الاِيمان)

منګې كه سپي د بهر طرف نه اوڅټلو نو په هغې كښې دننه اوبه به نه ناپاكه كيږي. (اَيضاًص۳۴۲)

## كه پيشو په اوبو كښې خُله اووهي نو؟

په كور كښې د اوسيدو والا ځناورو [او خزندوو] مَثَلًا د پيشو، منږك، مار او چرمښكۍ جُوټه مكرُوه ده. (اَيضاًص۳۴۳)

## د درې مَدَني ماشومانو جِينكو د مرګ د غم نه ډكه واقعه

**شوده**، اوبه او د خوراك ښكاك په څيزونو باندې سر اېښودل پكار دي. د بابُ الـمَدينه كراچۍ عِبرتناكه واقعه ده چه يوې ښځې او خاوند خپلې درې ورې ورې لونړه ګاوندۍ يا يوې خپلوانې ته حواله كړې او حج له لاړل، د حج نه مخكښې درې واړه مَدَني ماشومانې ناڅاپه د مرګ په خوب اودې شوې! غوغا جوړه شوه او مور او پلار ئې د حج كولو نه بغير د مَكَّهٔ مُكَرَّمه نه بيرته بابُ الـمدينه [كراچۍ] ته را اورسيدل، چه تحقِيق اوكړې شو نو معلومه شوه چه شوده [يعني پيۍ] ښكاره اېښودې شوې وو او په هغې كښې چرمښكۍ غورزيدلې وه او پكښې مړه شوې وه، هم هغه شوده هغه جِينكو څښلې وو او د زَهرو په اثر داسې واقعه پيښه شوه. وائې چه كه چرمَښكۍ د څښلو په څيز كښې مړه شي او اوشليږي نو د هغې زَهر د سلو كسانو د پاره كافي دي!

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درودِ پاك اُو نه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

## د ځناورو خوَله

د كوم يو جُوتړه چه ناپاكه ده د هغه خوَله او لاړې هُم ناپاكه دي او د كوم يو چه جُوتړه پاكه ده د هغه خوَله او لاړې هم پاكې دي او د كوم يو جُوتړه چه مكرُوه ده د هغه خوَله او لاړې هم مكرُوه دي.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه ٢ ص ٣٤٤)

## د خَر خوَله پاكه ده

د خر يا قچر خوَله كه په جامو اولګي نو جامې پاكې دي كه هر څومره زياته پرې لګيدلي وي. (اَيضاً)

## په وِينې شوې خُله اوبه څښل

كه د چا خُله دومره وِينې شوه چه لاړې ئې سرې شوې او هغه فوراً اوبه اوڅښلې نو دا جُوتړه (اوبه) ناپاكه دي او د سُوروالې ختميدو نه پس په هغه لازِمه ده چه په وِينځلو خُله پاكه كړي او كه خُله ئې اُو نه وِينځله او يو څو ځله لاړې د نَجاست په ځائې (يعني ناپاكه حِصّه) باندې تيرې شوې كه هغه په تيرولو كښې وي او كه په تُوكلو كښې وي تر دې چه د نَجاست اثر پاتې نه شو نو طهارت [يعني پاكي] حاصله شوه د هغې نه پس كه اوبه څښې نو پاكې به وي حالانكه په داسې حالت كښې لاړې تيرول سخته ناپاكه خبره او ګناه ده.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه ٢ ص٣٤١)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

## د زنانه د پردې د ځائ اوبه

د زنانه د مِتيازو د مقام نه چه كوم لــمدوالې اوځي هغه پاك دي، كه په جامو يا بدن باندې اولګي نو د هغې وِينځل ضروري نه دي خو وِينځل ئې بهتر دي. (بَهارِ شرِيعَت ج ۱ حِصّه ۲ ص ۳۹۵)

## سخا شوي غوښه

كومه غوښه چه سخا شوه بدبوئي ئې اوكړو د هغې خوړل حرام دي اګر چه نَجَس (يعني ناپاكه) نه ده. (بَهارِ شرِيعَت ج ۱ حِصّه ۲ ص ۳۹۵)

## د وِينې بوتل

كه نمونځ ئې اوكړو او په جيب وغيره كښې ورسره بوتل وو او په هغې كښې مِتيازې يا وِينه يا شراب وو نو نمونځ به نه كيږي او په جيب كښې ئې اكېئ ده او د هغې د زيرو نه وِينه جوړه شوي وي نو نمونځ به اوشي. (اَيضاً ص ۳۹۲) كه د ټيسټ د پاره روان ئې او د وِينې بوتل درسره په جيب كښې وي نو د نمانځه كولو په وخت كښې ئې د جيب نه لرې كړئ.

## د مرې د خُلې اوبه

د مرې د خُلې اوبه ناپاكه دي. (فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج ۱، ص ۲۶۸، دُرِّ مُختار ج ۱ ص ۲۹۰)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

## ناپاکه بِستره

﴿۱﴾ كه په لـمده ناپاكه زمكه يا نَجِس (يعني ناپاكه) بِستره باندې ئې اوچې ښپې كيښودلې او ښپې لـمدې شوې نو نَجِس (يعني ناپاكه) شوې او كه داسې معمولي لـمدوالې چه ښپې نه لـمدوي (او هسې يخ والې لري) نو [ناپاكه] نه شوې. (بَهارِ شرِيعَت ج۱ حِصّه ۲ ص ۳۹۳)

﴿۲﴾ نَجِس (يعني ناپاكه) جامې ئې واغوستلې يا په نَجِس (يعني ناپاكه) بِستره باندې اوده شو او خوَله پرې راغله، كه په خوَله باندې هٰغه ناپاكه ځائ لوند شو او بيا په هغې بدن لوند شو نو ناپاكه شو كني نه. (اَيضاً ص۳۹٤)

## لُوند خختك

كه خختك[3] ئې لوند وو او هوا ئې خارِجه شوه نو جامې به نه نَجِسې كيږي. (اَيضاً ص۳۹٤)

## د اِنساني خرمنې ټكړه

د اِنسان خرمن اګر كه د نُوك هُمره په اوبو (يعني د دَه در ده نه كمو اوبو) كښې پريوته هغه اوبه ناپاكه شوې او كه نُوك پـكښې پريوځي نو ناپاكه نه دي. (اَيضاً)

[3] يعني شرم ګاه ته لګيدو والا د پرتُوګ د دواړو پينځو بره د مينځ ځائ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمُعې په شپه او د جُمُعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرانی)

## خپياکه (يعني اوچ شوي غوشان)

﴿۱﴾ خپياکه (يعني اوچ شوي غوشان) سيزل او په هغې طعام پخول جائِز دي. (بَہارِ شرِیعَت ج۱ حِصّہ۲ ص۴۰۲) ﴿۲﴾ د خپياکې (يعني اوچو شوو غوشانو) لُوګي دوډئ اووهله نو دوډئ ناپاکه نه شوه. (اَیضاً ص۳۹۴) ﴿۳﴾ د خپياکې اِيرې پاکې دي او که د اِيرې کيدو نه مخکښ مره شوه نو ناپاکه ده. (اَیضاً ص۳۹۶)

## که په تَبَخِي ئې ناپاکه اوبه اوشيندلي نو؟

که تنور يا تَبَخِي باندې ئې ناپاکه اوبه اوشيندلې او [د اور] په لَـمبه د هغې لـمدوالي ختم شو او بيا پرې دوډئ پورې کړې شوه نو هغه پاکه ده. (اَیضاً ص۴۰۲)

## د حرام ځناور غوښه او خرمن به څنګه پاکيږي؟

د خِنزِير نه علاوه د هر ځناور که هغه حلال وي او که حرام، چه هغه د ذَبح [يعني حلالولو] قابِل وي، او بِسْمِ الله پرې اولوستلې شي او ذَبح [يعني حلال] کړې شي نو د هغې غوښه او خرمن پاك دي، يعني که د نمونځ کوونکي سره هغه غوښه وي يا د هغې په خرمن نمونځ اوکړې نو نمونځ به اوشي خو د حرام ځناور (غوښه وغيره خوړل) په ذبح کولو نه حلاليږي هغه به [هم هغسې] حرام وي.

(بَہارِ شرِیعَت ج۱ حِصّہ ۲ ص۴۰۲)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اُو نه لولي. (تِرمِذِی)

## د چيلۍ په پوټكي باندې د ناستې سره عاجزي پيدا كيږي

د سرې خور څناور څرمن اكثر كه اوچه كړې شوې وي، نه په هغې كښيناستل پكار دي او نه پرې نمونځ كول پكار دي ځكه چه د هغې سره په مِزاج كښ سختي او تكبُّر پيدا كيږي د چيلۍ (چيلي) او ګډ [اوګډې] په څرمن باندې د كښيناستو او اغوستلو سره په مِزاج كښ نرمي او اِنكِساري (يعني عاجِزي) پيدا كيږي، د سپي څرمن اكثر كه اوچه كړې شوې وي يا هغه ذبح كړې شوې وي، نه دې استعمالول پكار ځكه چه د آئِمه د اِختِلاف او د عوام د نفرت نه بچ كيدل مناسب دي. (اَيضاًص ٤٠٢، ٤٠٣) **كوم نَجاسَت** چه ښكاري هغې ته **مَرْئِيَّه** او چه كوم نه ښكاري هغې ته **غيرمَرْئِيَّه** وائي. (اَيضاًص ٣٣٢)

## د ټينګ نجاست والا جامې څنګه اووِينځي

**نَجاسَت** [يعني ناپاكي] كه ټينګه وي چه هغې ته نَجاسَتِ **مَرْئِيَّه** وائي (لكه غټې بَول، غوشان او وِينه وغيره) نو په وِينځلو كښ د شُمار هيڅ شرط نشته بلكه د هغې لرې كول ضروري دي، كه په يو ځل وِينځلو لرې شي نو په يو ځل وِينځلو به پاك شي او كه په څلور پينځه ځله وِينځلو لرې كيږي نو څلور پينځه ځله وِينځل به ضرورري وي خو كه د درې ځله نه كم [وِينځلو] سره نَجاست لرې شي نو درې ځله پوره كول مُستحب دي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه٢ ص ٣٩٧)

www.dawateislami.net

## كه د نجاست رنګ په جامو پاتې شي نو؟

كه نَجاست لرې شي خو د هغې څه اثر رنګ يا بوئې پاتې وي نو هغه هم لرې كول لازمي دي خو كه د هغې اثر په مُشكِله لرې كيږي نو د اثر لرې كولو ضرورت نشته درې ځله چه اووِينځلې شو نو پاك شو، په صابُن يا ترِيو څيز [يعني د نيمبو په رَس وغيره] يا تودو اوبو (يا په څه كيميكل وغيره) د وِينځلو حاجت نشته. (اَيضاً)

## د نَري نَجاست پاك كولو مُتَعَلِّق شپږ مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ كه نَجاست رَقِيق (يعني نرې لكه مِتيازې وغيره) وي نو درې ځله وِينځلو او درې واره ځله په قُوَّت (يعني پوره طاقت) نچوړولو سره به پاك شي او په قُوَّت سره د نچوړولو دا معنٰى ده چه هغه كس ئې په خپل پوره طاقت داسې نچوړ كړي چه كه بيا ئې نچوړوي چه د هغې نه يو څاڅكې اوبه هم اُو نه څڅيږي، كه د جامو [د شليدو وغيره نه د بچ كولو] په خيال ئې صحيح نچوړ نه كړي نو پاكې به نه وي. (بَهارِ شريعَت ج۱ حِصّه۲ ص ۳۹۸) ﴿۲﴾ كه د وِينځلو والا صحيح نچوړ كړې خو داسې دي چه كه د هغه نه په طاقت كښې زيات كس ئې بيا نچوړ كړي نو يو دوه څاڅكي اوبه ترې څڅيدې شي نو د هغه (وړومبني نچوړولو والا) په حق كښې پاكې دي او د دويم په حق كښې ناپاكه دي. د دې دويم د

www.dawateislami.net

طاقت (د وړومبي په حق کښې) اِعتِبار نشته، خو كه ده [يعني دويم] وِينځلي او هُم هغه هُمره ئې نچوړولي (خومره چه وړومبي نچوړ کړي وې) نو پاکې به نه وې. (اَيضاً) ﴿۳﴾ د وړومبي او دويم ځل نچوړولو نه پس لاسونه پاك كول بهتر دي او په دريم ځل نچوړولو سره کپړه هُم پاكه شوه او لاسونه هم [پاك شو]، او كه په کپړه کښې دومره لَمدوالې پاتې وې چه په نچوړولو به ترې يو دوه څاڅکي اوڅڅيږي نو کپړه او لاسونه دواړه ناپاكه دي. (اَيضاً) ﴿٤﴾ په وړومبي يا دويم ځل [نچوړولو کښې] ئې لاسونه پاك نه کړل او د هغې په لَمدوالې د کپړې پاكه حِصَّه هم لَمده شوه نو دا هُم ناپاكه شوه نو دا كه د وړومبي ځل نچوړولو نه پس لَمده شوي وې نو دا دوه ځله وِينځل غواړي او كه په دويم ځل د نچوړولو نه پس د لاس په لَمدوالي لَمده شوي وي نو يو ځل دِ اووينځلې شي. هُم د غسې كه په هٰغه کپړه کومه چه په يو ځل وِينځلو نچوړ شوي ده، کومه پاكه کپړه لَمده شوه نو هغه دِ دوه ځله اووِينځلې شي او كه په دويم ځل نچوړولو نه پس په هغې هغه کپړه لَمده شوه نو په يو ځل وِينځلو به پاكه شي. (بَهارِ شرِيعَت ج۱ حِصّه۲ ص ۳۹۸) ﴿۵﴾ کپړه ئې درې ځله اووِينځله او هر ځل ئې ښه نچوړه کړه چه كه بيا نچوړ کړې شي نو نه به څڅيږي بيا ئې هغه [د اوچولو د پاره] اوغوړوله او د هغې نه اوبه اوڅڅيدلې نو دا اوبه پاكې دي او

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

كه ښه ئې نه وه نچوړه كړې نو دا اوبه ناپاكه دي. (اَيضاًص۳۹۹) ﴿٦﴾ دا ضروري نه ده چه په يو وخت دِ درې ځله اووِينځلې شي بلكه كه په مختلِفو وختونو بلكه مُختَلِفو ورځو كښې هم دا شمير پوره كړې شي نو بيا به هم پاكې شي. (اَيضاًص٤٠٠)

## د بهيدونكې نَل نه لاندې وِينځلو كښې نچوړول شرط نه دې

په فتاوٰی اَمجَدِيه جِلد۱ صفحه ۳۵ كښې دي چه دا (يعني د درې ځله وِينځلو او نچوړولو) حُكم هله دې چه كله په لږو اوبو وِينځلې شوي وي، او كه په حوضِ كَبِير [غټ حوض] (يعني دَه در ده يا د دې نه غټ حوض، نهر، خوړ يا سمندر وغيره) كښې اووِينځلې شي يا (د نَل، پائِپ يا لوټې وغيره په ذريعه) پرې ډيرې اوبه اوبَهيَولې شي يا (د درياب وغيره) په روانو اوبو كښې اووِينځلې شي نو د نچوړولو شرط نشته.

## په روانو اوبو كښې پاك كولو كښې د نچوړولو شرط نشته

فُقَهائے كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي: درئ يا تراټ [ټاټ] يا بله يوه ناپاكه كپړه چه په روانو اوبو كښې ټوله شپه كيښودې شي نو پاكه به شي او اصل دا دې چه په څومره وخت كښې دا ظَنِّ غالِب [يعني غالِب گُمان] اوشي چه اوبو به نَجاست وړې وي نو پاك شو ځكه چه په روانو اوبو كښې پاك كولو كښې نچوړول شرط نه دي.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ حِصّه ۲ ص ۳۹۹)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په مخكښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاك اُو نه لوستو هغه د جَنّت لاره پريښوده. (طَبَرانِي)

## د پاكو او ناپاكو جامو د يو ځائ وِينځلو مسئَله

كه په بالتِي يا د جامو وِينځلو په مشين كښې د پاكو جامو سره يوه هم ناپاكه كپړه په اوبو كښې واچولې شوه نو ټولې كپړې به ناپاكه شي او بې د شرعي ضرورته داسې كول جائِز نه دي. چنانچه اَعلٰى حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په فتاوٰى رَضَوِيَّه (مُخَرَّجه) جِلد اوّل ص ۷۹۲ كښې فرمائي: "بې ضرورته پاك څيز ناپاكه كول ناجائِزه او ګناه ده." په جِلد ٤ (مُخَرَّجه) ص۵۸۵ كښې فرمائي: "بدن او لِباس بې د شرعي ضرورته ناپاكه كول او دا حرام دي. په "البحرُ الرَّائِق" كښې دي: پاك څيز ناپاكه كول حرام دي." (البحرُ الرَّائِق، ج۱ ص۱۷۰) لِهٰذا ضروري ده چه پاكې او ناپاكه جامې جُدا جُدا اووِينځلې شي. كه يو ځائ وِينځل غواړئ نو د ناپاكه جامو د نَجاست والا حِصّه په احتياط مخكښې پاكه كړئ بيا بيشكه د نورو خِيرَنو جامو سره په واشِنګ مشين كښې هغه هم اووِينځئ.

## د ناپاكه جامو د پاك كولو آسانه طريقه

د جامو پاك كولو يوه آسانه طريقه دا هُم ده چه په بالتِي كښې ناپاكه جامې واچوئ او د پاسه پرې نَل چالو كړئ، جامې په لاسو يا په څه سيخ وغيره نيولې داسې ډوبې ساتئ چه د يو ځائ نه هُم د

www.dawateislami.net

جامو يوه حِصّه بهر نه وي راوتلې. چه كله د بالټې نه په راخُوټكيدو راخُوټكيدو دومره اوبه اوبهيږي چه ظَنِّ غالِب [يعني غالِب گُمان] اوشي چه اوبو به نَجاست وړې وي نو هغه جامې او د بالټې اوبه او د لاس يا سيخ ځومره حِصّه چه په اوبو كښې دننه وه ټول پاك شو هله چه په جامو وغيره باندې د نجاست اثر پاتې نه وي. د دې عمل په دوران كښې دا احتياط ضروري دې چه د پاك كيدو د ظَنِّ غالِب [يعني غالِب گُمان] نه مخكښې د ناپاكه اوبو يو څاڅكې هم ستاسو بدن يا بل څيز ته اونشي. كه د بالټې يا بل لوښي پاسنۍ غاړې يا دننه طرف ته ديوال د ناپاكه اوبو والا دې او زمكه دومره هواره نه ده چه د بالټې د هر طرف نه اوبه اوبهيږي او ټولې غاړې وغيره هم ورسره اووِينځل شي نو په داسې صورت كښې د څه لوښي په ذريعه يا د جاري اوبو د نل نه لاندې لاس اونيسئ او په هغې د بالټې وغيره څلور واړه طرفو باندې داسې اوبه اوبَهيَوئ چه غاړې او دننه حِصّې ئې هم پاكې اووينځلې شي خو دا كار په شروع كښې اوكړئ چرې پاكې جامې بيا ناپاكه نه كړئ!

## په واشِنگ مشين كښې د جامو پاك كولو طريقه

په واشِنگ مشين كښې جامې واچوئ او مخكښې ئې د اوبو نه ډك كړئ او جامې په لاس وغيره په اوبو كښې زور كړې اونيسئ چه يوه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: كوم كس چه په ما درودپاك لوستل هير كړل هغه دَ جنّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

حِصّه ئې هم بهر نه وي راوتلي، پاسنې نَل پرې چالو ساتئ او بيا لاندې سُورې هم خلاص كړئ، دغسې به د پاسني نَل نه اوبه راروانې وي او د مشِين په لاندي سوري به اوځي چه كله مو ظَنِّ غالِب [يعني غالِب گُمان] اوشي چه اوبو به نَجاست وړې وي نو د جامو او د مشين دننه اوبه به پاكې شي هله چه د نَجاست [يعني ناپاكئ] اثر په جامو وغيره باندې پاتې نه وي ضرورتاً د مشين پاسنئ غاړې په بيان كړي شوې طريقه د مخكښ نه وِينځل پكار دي.

## د نَل نه لاندې د كپړو پاك كولو طريقه

په **بيان كړې شوې** طريقه د پاك كولو د پاره بالتې يا بل لوښې ضروري نه دې، د نَل نه لاندې ئې چه په لاس كښې اونيسئ نو هم پاك كولې ئې شئ. مَثَلًا رومال ناپاكه شو، نو په بيسن كښې ئې د نَل نه لاندې اونيسئ او دومره ساعت پرې اوبه اوبهيوئ چه ظَنِّ غالِب [يعني غالِب گُمان] مو اوشي چه اوبو به نَجاست بَهيَولې وي نو پاك به شي. غټه كپړه يا د هغې ناپاكه حِصّه هُم په دې طريقه پاك كيدې شي. خو دا احتياط ضروري دې چه د ناپاكه اوبو څاڅكې ستاسو بدن او خواو شا نورو ځائيونو ته اُو نه شي.

## د كارپيټ [قالِين] پاك كولو طريقه

د **كارپيټ** (CARPET) [قالِين] ناپاكه حِصَّه يو ځل اووِينځئ او زوړند ئې كړئ تر دې چه اوبه څڅيدل ترې بند شي بيا ئې دوباره اووِينځئ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

او زوړند ئې کړئ تر دې چه اوبه څڅیدل ترې بند شي بیا ئې دریم ځل هم دغسې اووِینځئ او زوړند ئې کړئ تر دې چه اوبه څڅیدل ترې بند شي نو کارپیټ [قالِین] به پاك شي. پزَکې، د څرمنې څپلئ او خورِین لوښي وغیره په کومو څیزونو کښې چه نجاست جَذب کیږي په هُم دې طریقه پاك کوئ. داسې نازکه کپړه چه په نچوړولو کښې ئې د شلیدو اندیښنه وي هغه هم په دې طریقه پاك کوئ. که ناپاکه کارپیټ [قالِین] یا کپړه وغیره به بهینده اوبو (مَثَلًا دریاب یا نهر کښې یا د پائِپ یا د نَل د جاري اوبو نه لاندې) دومره ساعته پورې کیښدئ چه ظَنِّ غالِب [یعني غالِب گُمان] مو اوشي چه اوبو به نَجاسَت [یعني ناپاکي] د ځان سره بَهیَولي وي نو بیا به هم پاك شي. چه په کارپیټ [قالِین] باندې ماشوم مِتیازې اوکړي نو په هُغه ځائ باندې د اوبو د څاڅکو شیندلو سره هغه نه پاك کیږي. یاد ساتئ! د یوې ورځې د ماشوم یا ماشومې مِتیازې هُم ناپاکه وي.

## په ناپاکه نکریزو باندې سره کړي لاسونه به څنګه پاك شي؟

په کپړه یا لاس باندې نَجس رنګ اولګیدو، یا چا ناپاکه نکریزې اولګولې نو دومره ځل دِ ئې اووِینځې چه صفا اوبه ترې بهیدل شروع شي نو پاك به شي اګر که په کپړه یا لاس رنګ پاتې شي.

(بَہارِ شرِیعَت ج۱ حِصّہ ۲ ص ۳۹۷)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي . (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## د ناپاكه تيلو والا كپړه وِينځلو مَسئَله

كه په كپړه يا بدن ناپاكه تيل لګيدلي وو نو درې ځله وِينځلو سره به پاك شي اګر كه د تيلو غوړوالې پاتې وي، د دې تكليف حاجت نشته چه په صابُون يا تَودو اوبو دِ ئې اووِينځي خو كه د مُردار [څاروي يا ځناور وغيره] وازګه وريورې نښتي وي نو چه تر څو ترې د هغې غوړوالې لا رِ نه شي پاك به نه وي. (اَيضاً ص۳۹۸)

## كه د كپړې لګه شان حِصَّه ناپاكه شي...؟

كه د **كپړې** څه حِصّه ناپاكه شوه او دا ياد نه دي چه هغه كوم ځائ وو نو بهتره دا ده چه ټوله اووِينځي (يعني چه كله بالكل معلومه نه وي چه په كومه حِصّه ناپاكي لګيدلي ده او كه معلومه وي چه مَثَلًا لِستونړې نَجِس شو خو دا نه ده معلومه چه د لِستونړي كومه حِصَّه وه نو د پوره لِستونړي وِينځل د پوره كپړې وِينځل دي) او كه په اندازه باندې په خپل سوچ د هغې څه حِصّه اووِينځي نو بيا به هم پاك شي او كه بغير د سوچ نه ئې هره يوه حِصّه اووِينځله نو بيا هم پاك دي خو كه په دې صُورت كښې د يو څو نمونځونو كولو نه پس معلومه شوه چه نَجِسه حِصّه نه ده وِينځلې شوې نو بيا دِ ئې اووِينځي او نمونځونه دِ را اوګرځوي (يعني بيا دِ ئې اوكړي) او كه د سوچ كولو نه پس ئې وِينځلې وه او بيا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك اُونه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

وروستو غَلَطي معلومه شوه نو بيا دِ ئې اووِينځي او د نمونځونو راګرځولو (يعني د بيا ادا كولو) حاجت نشته. (اَيضاً ۳۹۹.۴۰۰)

## په شودو كپړه وِينځل څنګه دي؟

**په شودو،** ښوروا او په تيلو باندې د وِينځلو سره به [كپړه يا بل څيز] نه پاك كيږي ځكه چه په دې نَجاست نه لرې كيږي.

(بَهارِ شريعَت ج۱ حِصّه ۲ ص ۳۹۷)

## د مَني والا كپړو پاك كولو شپږ اَحكام

﴿۱﴾ كه مَني په كپړه پريوځي او اوچه شي نو صرف په مړلو او څنډلو او صفا كولو به پاكه شي اګر كه د مړلو نه پس د هغې څه اثر په كپړه پورې پاتې شي. (اَيضاًص ۴۰۰) ﴿۲﴾ په دې مسئَله كښې د زنانه او نارينه اِنسان او ځناور او د صحت مند او د جِريان د مريض د ټولو د مَني يو حُكم دې. (اَيضاً) ﴿۳﴾ كه په بدن باندې مَني اولګي نو هغه به هم دغسې پاكه شي. (اَيضاً) ﴿۴﴾ كه چا مِتيازې اوكړې او په اوبو يا په لُوټه ئې طَهارت [يعني پاكي] حاصِله نه كړه او بيا مَني په هٔغه ځائ تيره شوه نو په كوم ځائ باندې چه مِتيازې لګيدلې وې هغه به په مړلو نه پاك كيږي بلكه وِينځل ئې ضروري دي او كه طَهارت ئې كړې وو او يا مَني د هٔغه ځائ نه په ټوپ [يعني داره] وَتلې وه او د ناپاكئ په هٔغه ځائ نه وه تيره شوې نو په مړلو به پاكه شي. (اَيضاًص۴۰۱) ﴿۵﴾ كومه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك اُو نه لوستو هغه په خلقو كښې ډير زيات كنجُوس (يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

كپړه چه په مړلو پاكه شوې وي او بيا هغه په اوبو لـمده شي نو نه به ناپاكه كيږي. (اَيضاً) ﴿٦﴾ كه مَنِي په كپړه باندې لګيدلې وي او تر اوسه پورې لـمده وي (او د اوچولو نه بغير ئې پاك كول غواړي) نو په وِينځلو به پاكه شي (د اوچولو نه مخكښې مړل) كافي نه دي. (اَيضاً)

## د بل د ناپاكه كپړو ښودنه كله واجِب ده؟

كه د بل مسلمان په جامو ئې نَجاسَت [يعني ناپاكي] لګيدلې اوليدله او غالِب ګُمان ئې دې چه كه هغه ته خبر وركړې نو هغه به ئې پاك كړي نو هغه ته خبر وركول واجِب دي. (كه په داسې صُورت كښې ئې خبر نه كړې نو ګنهګار به وې). (بَهارِ شرِيعَت ج١٦ حِصّه ٢ ص ٤٠٥) كه اِسلامي خور [يعني يوې زنانه] د نامَحرم مَثَلًا ورندار د ليور په جامو نَجاسَت اوليدو نو [هغه ته] خبر وركول ضروري نه دي.

## د مالوچو پاك كولو طريقه

كه د مالوچو دومره حِصَّه نَجِس (يعني ناپاكه) ده چه په [ډانډس يا مشين] وهلو د هغې د اَلوَتلو صحيح ګُمان وي نو په وهلو به (مالوچ) پاك شي ګني [يعني كه په وهلو د پاك كيدو غالِب ګُمان نه وي نو] د وِينځلو نه بغير به نه پاك كيږي، خو كه معلومه نه وي چه څومره نَجِس (يعني ناپاكه) ده نو بيابه هم په [ډانډس يا مشين] وهلو پاك شي.

(بَهارِ شرِيعَت ج١٦ حِصّه ٢ ص ٤٠٣)

www.dawateislami.net

## د لوښو پاك كولو طريقه

كه داسې څيز وي چه په هغې كښې نجاست جذب شوې نه وي، لكه چيني لوښې يا خورين زوړ استعمالي غوړ لوښې يا د اوسپنې، تانبې، پيتلو وغيره يا د بلې اوسپنې څيزونه نو هغه صِرف درې ځله وِينځل كافي دي، د دې خبرې ضرورت هم نشته چه ګنې هغه دِ دومره ساعت كيښودلې شي چه اوبه څڅيدل ترې بند شي. (اَيضاًص ۳۹۹)

## د چړې، چاقو وغيره پاك كولو طريقه

د اوسپنې څيز لكه چاړه، چاقو، تُوره وغيره چه هغه نه زَنګ شوې وي او نه پكښې نقش و نِګار شوې وي او هغه نَجِس [يعني ناپاكه] شي نو [په كپړه وغيره] په ښه طريقه مږلو به پاك شي او په دې صُورت كښې د نَجاست په تينګ او نَرې كيدو كښې هيڅ فرق نشته. هُم دغسې د سپينو او سرو زرو، د پيتلو، سِلورو او د هر قِسم اوسپنو څيزونه [په كپړه وغيره] په مږلو پاكيږي په شرط د دې چه نقش پرې نه وي او كه نقش پرې جوړ وي يا اوسپنه زَنګ شوې وي نو بيا به وِينځل ضروري وي په[كپړه وغيره] مږلو به نه پاك كيږي. (بَهارِشرِيعَت ج۱ حِصّه ۲ ص ۴۰۰)

## د آئينه [شِيشه] پاك كولو طريقه

آئينه او د شِيشې ټول څيزونه او چيني لوښې يا خَورِين روغني لوښې (يعني هغه لوښې چه د شيشې نرې مخ وركړې شوې وي) يا پالش كړې لرګې غرض دا چه هغه ټول څيزونه چه هغه نرې نرې قُوتې نه لرې

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو نرخو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

[يعني هغې ته اوبه نه شي داخليدې]، چه هغه په كپړه يا پانړو دومره اومږلې شي چه (د نجاست) اثر ترې بالكل لرې شي نو پاك شي. (اَيضاً) خو دا ياد ساتئ چه كه چاؤدې وي، يا د څه ځائ نه [ئې څه مخ] ولاړ شوې وي يا ئې څه حِصّه ماته وي يا ئې د څه ځائ نه پالش لرې شوي وي غَرَض دا چه كه د هر قِسم زِيګ والې ښكښې وي نو د هُغه حِصّې [په كپړه يا پانړو] مږل به كافي نه وي، هغه به په وِينځلو پاك كول ضروري وي.

## د پيزار پاك كولو طريقه

(د څرمنې) په موزه يا په څپلئ پورې كه ټينګ نَجاست نښتې وي، لكه غټ بَول، غوشان او مَني [وغيره] نو اګر كه هغه نَجاسَت لُوند وي په نړولو او مږلو به پاك شي او كه د مِتيازو په شان كوم يو نرې نجاست وريورې نښتې وي او په هغې باندې خاوره، اِيرې، يا شګه وغيره واچولې شي او اومږلې شي نو بيا به هم پاك شي. او كه داسې اونكړې شو تر دې چه هغه نَجاسَت اوچ شو نو بيا به د وِينځلو نه بغير نه پاك كيږي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ حِصّه ٢ ص ٤٠٠)

## د كافِرو استعمال شوې بنينونه وغيره

د كُفّارو د مُلكونو نه راوړې شوي (IMPORTED) استعمال شوي بنينونه، جُرابې، قالِين او نورې زړې جامې چه تر څو په هغې د نَجاست اثر ښكاره نه وي پاك دي، بغير د وِينځلو نه ئې په نمانځه كښې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

استعمالولو کښې باك نشته، البته پاك كول ئې مُناسِب دي. صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي اِدارې مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوي بَهارِ شرِيعَت ج۱ حِصّه ۲ صفحه ۴۰۵ کښې فرمائي: د فاسِقانو استعمالي جامې چه د هغې نَجِس [يعني ناپاكه] كيدل معلوم نه وي هغه به پاكې گڼلې شي خو د بې نمانځه كس په پاجامه [پرتوګ] کښې هم دا احتياط دې چه د هغې خختګ[4] دِ پاك كړې شي ځكه چه اكثر بې نمانځه خلق چه مِتيازې اوكړي نو دغسې پاجامه اوتړي او د كُفّارو د دې جامو په پاك كولو کښې خو ډير خيال كول پكار دي.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ حِصّه ۲ ص ۴۰۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ماخذ ومراجع

| د کتاب نوم | مطبوعه | د کتاب نوم | مطبوعه |
|---|---|---|---|
| مجمع الزوائد | دار الفكر بيروت | درمختار و ردالمحتار | دار المعرفة بيروت |
| فتاوٰی قاضی خان | پشاور | فتاوٰی رضویه | رضا فاؤنڈیشن لاهور |
| فتاوٰی عالمگیری | كوئټه | بهار شريعت | مكتبة المدينه باب المدينه كراچی |
| البحرالرائق | كوئټه | | |

طالب غم مدینہ
بقیع و مغفرت و
بے حساب جنّت
الفردوس
میں آقا کا پڑوس
یکم محرم الحرام ۱۴۳۴ھ
16-11-2012

[4] يعني شرم ګاه ته لګيدو والا د پرتُوګ د دواړو پينڅو بره د مينځ ځائ.

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نيك او نمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د نمانځه نه پس ستاسو په خاۍ کښې کېدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره توله شپه تيروۍ ❁ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د دري ورځو سفر او ❁ هره ورځ د **"فِكرِ مَدِينه"** په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډكوۍ او د هرې مَدَني مياشتې په يكُم تاريخ ئې د خپل خاۍ ذِمَّه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ.

**زما مَدَني مقصد:** **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح كوشش كول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپل ځان د اصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د كوشش كولو د پار په "مَدَني قافِلو" كښې سفر كول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







MC 1288


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (كراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net